ISSUE 71 MARCH 2024

خانه نو نوی کور

# New Home

خانه نو، سرویس خبری برای اهل افغانستان در امریکا است

نوی کور، په امریکا که د افغانانو لپاره یو خبری خدمت دی

**A news service for Afghans in America**

NEW HOME is brought to you by Sahan Journal, Afghan Cultural Society,and Center for Victims of Torture.
It’s reported and written by Hussain Ali Haidari.




Photo Credit: Eid Mohammad Rooish

# په مینه‌سوټا کې ښځو لاریون؛ د افغان میرمنو غږ باید واوریدل شي

- طالبان باید د ښځو حقونه په رسمیت وپیژنی
- ګوتریش: د طالبانو حکومت په افغانستان کې د ښځو د حقونو د مخنیوي په هدف ۵۰ فرمانونه صادر کړي
- افغانستان د ښځو د حقونو له خورا جدي بحران سره مخ دی
- د ښځو د ونډې لپاره باید فضا جوړه شي

## گوتریش: د طالبانو حکومت په افغانستان کې د ښځو د حقونو د مخنیوي په هدف ۵۰ فرمانونه صادر کړي

د دوشنبې په ورځ (مارچ ۱۱) انتونیو گوتریش د ښځو د حقوقو اړوند ۶۸مې غونډې ته په خپله وینا کې د سوډان ترڅنګ افغانستان هم یاد کړی او زیاته یې کړل چې طالبانو تر ۵۰ زیات فرمانونه صادر کړي چې ټول یې د موخه یې په افغانستان کې د ښځو د حقونو تر پښو لاندې کول دي. گوترش د ښځو د حقونو د دفاع لپاره د بنسټیزو اقداماتو پر اهمیت هم ټینګار وکړ، چې د ده په خبره اوس په افغانستان کې له خطر سره مخامخ دي.  په تېرو دوه نیمو کلونو کې د ښځو او نجونو د کار، زده کړو او ټولنیزو فعالیتونو پر وړاندې د طالبانو کړنو اندېښنې راپارولې او ویل کېږي، چې دغه کړنې د دې لامل شوې، چې د طالبانو سرپرست حکومت په رسمیت ونه پېژني.

## افغانستان د ښځو د حقونو له خورا جدي بحران سره مخ دی

د ملګرو ملتونو د ښځو د څانګې مشرې سیما باهوس د بشري حقونو له یو شمېر مدافعینو سره په کتنه کې وویل چې افغانستان لا هم د ښځو د حقونو له خورا جدي بحران سره مخ دی. باهوس دغه څرګندونې د چنګاښ په ۲۲مه، په ملګرو ملتونو کې د ښځو د وضعیت په اړه د کمېسیون د ٦٨مې غونډې په څنډه کې، چې «په افغانستان کې د جندر له اړخه د بشريت ضد جرم» تر عنوان لاندې جوړه شوې وه، وکړې. د هغې په وینا، په ټولو پرېکړو کې د ښځو د ونډې لپاره باید فضا جوړه شي.

**خپل پوښتنې او نظر له موږ شریکې**

**کړئ651**

**651-504-8170**

## په مینه‌سوټا کې ښځو لاریون؛ د افغان میرمنو غږ باید واوریدل شي

یو شمیر میرمنو تیره شنبه د مینه‌سوټا په سینټ کلاوډ کې لاریون وکړه. د غونډې ګډونوالو غوښتنه وکړه، چې په افغانستان کې دي د ښځو ستونزې واوري او باید د ښځو شته حقوق ورکول شي. وروسته له هغه چې په ۲۰۲۱ کال کې طالبان واک ته ورسېدل، ښځې له خپلو لومړنیو حقونو، چې تعلیم او کار دی، بې برخې شوي دي. دا مهال طالبان په خپله کابینه کې کومه ښځه نه لري او دغې ډلې د ښځو چارو وزارت له دولتي جوړښت څخه ایستلی دی. د د طالبانو له دې پرېکړې وروسته ښځو په کابل او د افغانستان په یو شمېر ولایتونو کې پراخې مظاهرې وکړې، خو د طالبانو له خوا له سخت فشار سره مخ شولې. په تېرو دوو کلونو کې طالبانو یو شمېر لاریون کوونکي ښځې نیولې او بندیانې کړې دي. په افغانستان کې د ښځو ناوړه وضعیت د دې لامل شوی چې د ښځو د حقونو یو شمېر فعالانې له هېواده بهر مظاهرې وکړي. د مینه‌سوټا ایالت په سینټ کلوډ کې د لاریون یوه تنظیمونکې حلیمه آزادمنش وایي، طالبانو د افغان حکومت له ټولو جوړښتونو څخه ښځې لیرې کړې دي. اغلې آزادمنش زیاته کړه چې په بهر کې ټولې ښځې باید د ښځو د غږ د پورته کولو لپاره خپله پوره هڅه وکړي. هغې ټینګار وکړی چې زده کړه او کار د ښځو حق دی او طالبان باید د ښځو حقونه په رسمیت وپیژنی. د نړۍ په بیلا بیلو ښارونو کې له مظاهرو سره سره طالبانو لا هم د ښځو د حقونو په رسمیت پیژندنه نه ده منلې. یو شمېر پوهان په دې باور دي چې د نړیوالې ټولنې او هغو موسسو فشار چې د ښځو له حقونو ملاتړ کوي، طالبان دي ته اړ کړي چې د ښځو حقونه په رسمیت وپېژني.